مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالغفور لېوال
۲۰۲۱/۱۱/۰۵

# اور، شپه او مساپر

لامې په ذهن کې بلېږي داسې

لکه د تورې شپې په غېږ کې د بيابان لمبه

چې له يو تللي مساپر هېره شي

مساپر يخ وهلی،

مساپر لار نه ويني

شاته داور وروستی لمبه ځلېږي:

راشه چې تود دې کړمه

راشه رڼا درکړمه، ودې سېزم

بېرته راوګرځه، تياره ده، شپه ده

راشه يخني ده، مرګ دی

مساپر ژاړي، مساپر وړاندې ځي

مساپر اور نه تښتي

مساپر غېږ کې لمبه نه شي وړلای

مساپر اور ته شا کړه

مساپر مرګ ته مخامخ ولاړ دی

اور ته چې ګوري

د لمبې ځلا يې سترګو کې د اوښکو څاڅکي لا ځلوي

ستا تصويرونه مې په اوښکو کې همداسې پټ دي


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليږلو مخکي په ځير و لولئ

تا ته مې شا ده او مرګي ته مخه

د ژوند سرِه تیاره لا پای نه لري

زه، لالهانده مساپر د ژوند په لویه بیدیا

ته مې د ذهن توروشپو کې شاته پاتې لمبه

چې نه دې وړای

نه پرېښودلای شمه.

۱۳۹۲ دچنګابښ یوولسمه شپه


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ